Office of Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۵مه ګڼه | پرله‌پسې ۶۷مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۲/۱۰



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- جوزجان کې د یتیم تاق سیمنټو فابریکې د جوړېدو پیل: د کورني صنعت له پاره ستر اقتصادي ګام

۲- افغانستان او روسیه: د برېښنا په سکټور کې د همکارۍ نوې هڅې

۳- پروان کې د صفوان سیمنټو فابریکه: لویه صنعتي پروژه او د ځان بسیاینې هڅه

# جوزجان کې د یتیم تاق سیمنټو فابریکې د جوړېدو پیل: د کورني صنعت له پاره ستر اقتصادي ګام




په جوزجان ولایت کې د یتیم تاق سیمنټو تولیدي فابریکې د جوړېدو عملي چارې پیل شوې، چې د هېواد د صنعتي اقتصاد له پاره د پانګونې له لویو پروژو ګڼل کېږي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې پروژې پرانیسته وکړه او په خپله وینا کې یې ټینګار وکړ چې د افغانستان اقتصادي راتلونکی د کورني تولید په پیاوړتیا او د وارداتو د کچې په راکمولو پورې تړلی دی. په دې پروژه کې ۷۷ ترکي شرکت شاوخوا ۱۶۰ میلیون ډالر پانګونه کوي. فابریکه به په ورځني ډول د ۳۰۰۰ ټنه سیمنټو د تولید ظرفیت ولري، چې دا اندازه د هېواد د کورنۍ اړتیا یوه مهمه برخه پوره کولی شي. همدارنګه تمه ده چې دا پروژه به نږدې ۵۰۰۰ کسانو ته مستقیم او غیر مستقیم کاري فرصتونه برابر کړي. دا پروژه یوازې د تولید یوه فابریکه نه ده، بلکې په وارداتي سیمنټو د افغانستان د تکیې د کمولو عملي هڅه ده. افغانستان اوس هم د ودانیزو موادو، په ځانګړي ډول سیمنټو برخه کې په وارداتو متکي هېواد دی، چې دې حالت د سوداګرۍ توازن اغېزمن کړی دی. جوزجان کې د دې لوېې صنعتي تولیدي فابریکې د جوړېدو د چارو پیل به د هېواد بازار کې د سیمنټو قیمتونه تر یوې کچې کنټرول کړي. دا پروژه کولی شي افغانستان د سیمې په کچه د سیمنټو یو تولیدي مرکز ته نږدې کړي. د افغانستان اسلامي امارت مسوولین به د سیمنټو کیفیت ته بشپړه توجه وکړي. د جوزجان د یتیم تاق سربېره په بغلان او کندهار کې هم د سیمنټو د تولیدي فابریکو چارې روانې دي، چې په بشپړېدو سره به یې په هېواد کې د سمنټو د داخلي تولید کچه زیاته او تر ډېره بریده به د وارداتي سیمنټو مخه ونیول شي.

# افغانستان او روسیه: د برېښنا په سکتور کې د همکارۍ نوې هڅې



د افغانستان برېښنا شرکت پلاوي روسیې ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې د روسیې د برېښنا له تولیدي او تخنیکي شرکتونو سره لیدنې کړې، چې هدف یې د برېښنا د تولید، شبکو پراختیا او تخنیکي ظرفیت لوړول دي. په دې لیدنو کې روسي شرکتونو ته بلنه ورکړل شوې چې افغانستان کې د پانګونې فرصتونه وڅېړي او د برېښنا سکتور د پراختیا په پروژو کې برخه واخلي. دواړه لوري په دې سلا شوي چې د شبکو د پراختیا، تخنیکي روزنې او د انرژۍ د تولید په برخو کې ګډ کار ته زمینه برابره کړي. په هېواد کې د برېښنا د تولید کمښت، د برېښنا د نویو

شبکو غځولو اړتیا او د لا ډېرو تخنیکي کادرونو روزل مهمې اړتیاوې دي. له همدې امله د روسیې شرکتونو له لوري د افغانستان د برېښنا سکتور سره همکاري کولی شي د افغانستان یادې اړتیاوې تر یوه حده پوره کړي. د افغانستان اسلامي امارت هیله لري چې د روسیې په ګډون نور هېوادونه په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې له راغلي فرصته ګټه واخلي او د برېښنا په ګډون ګنو سکټورونو کې پانګونه او له افغانستان سره همکاري وکړي. اسلامي امارت هیله لري چې مقابل هېوادونه یوازې ژمنې ونه کړي، بلکې شوې هوکړې او دغه ډول لیدنې کتنې عملي پایلې ولري. دا ډول همکارۍ او د هوکړو پلي کېدل د افغانستان د انرژۍ سکټور کې لوی بدلون راوستلی او افغانستان ځان بسیاینې ته نږدې کولی شي. اسلامي امارت ټولو کورنیو او بهرنیو شرکتونو او پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې. په وروستیو کې د برېښنا سکتور تر څنګ په ګنو سکټورونو کې پانګونه جذب شوې ده. اسلامي امارت د ټولو پانګوالو او سوداګرو باور ترلاسه کړی دی. همدا لامل دی چې په هېواد کې د پانګونې کچه د لوړېدو په حال کې ده.

## پروان کې د صفوان سیمنټو فابریکه: لویه صنعتي پروژه او د ځان بسیاینې هڅه

د پروان په جبل السراج ولسوالۍ کې د صفوان په نوم د سیمنټو د یوې لویې فابریکې د جوړېدو چارې روانې دي، چې د افغانستان د شمال له مهمو صنعتي پروژو څخه ګڼل کېږي. د دې پروژې اکتشافي چارې بشپړې شوې او د سیمنټو شاوخوا ۴۵۰۰ نمونې په سیمه کې پېژندل شوې، چې دا د تولید له پاره مناسبې طبیعي زیرمې ښیي. د پروژې د پلي کېدو له پاره د ځمکې د هوارولو لوی کار روان دی او شاوخوا یو میلیون متر مکعب ځمکه باید هواره شي، چې تراوسه یې لویه برخه بشپړه شوې ده. د انرژۍ د تأمین له پاره هم د نږدې نهه زره سولري پایو د نصب کار روان دی، څو فابریکه تر یوه حده په خپله د برېښنا اړتیا پوره کړي. دا اقدام د صنعتي ځان بسیاینې په لور مهم تخنیکي پرمختګ بلل کېږي. د پروژې مجموعي لګښت شاوخوا ۲۲۵ میلیون ډالر اټکل شوی او تمه ده چې شاوخوا ۵۰۰۰ کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي. دا پروژه کولی شي هېواد ته د سیمنټو واردات کم کړي او د کورني تولید برخه لوړه کړي. د افغانستان اسلامي امارت په مختلفو سکټورونو کې د هېواد د ځان بسیاینې په لور چټک ګامونه اخیستي دي. وروستیو کې د سیمنټو تولید او پراختیا ته ډېره توجه شوې ده، ځکه افغانستان اوس د سیمنټو برخه کې یو وارداتي هېواد دی، خو په مختلفو ولایتونو کې د سیمنټو فابریکو د چارو د بشپړېدو او سیمنټو تولید سره به د وارداتو کچه تر ډېره کمه شي او افغانستان به ځان بسیاینې ته ډېر نږدې شي.

